لومړی ټچه

# د ښوونکي لارښود

د سکرین/پردې کارولو پرته زده کړه ییزې سرچینې چې ګڼ مهارتونه منځته راوړي

## لومړی کتاب



د منځپانګې همکاران

education above all
التعليم فوق الجميع
THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire
DREAM a DREAM

# د ښوونکو لپاره یادښت

**پوهنه تر هر څه پورته (Education Above All)** په قطر کې مېشت د پوهنې یو نړیوال بنسټ دی چې د هر چا لپاره د باکیفیته پوهنې له لارې د هیلې او واقعي فرصتونو چمتو کول په پام کې لري. د پوهنه تر هر څه پورته (EAA) د تخلیقي پراختیا څانګې د سلګونو داسې پوهنیزو سرچینو د چمتو کولو لپاره چې سکرین/پردې ته اړتیا نه لري او د تدریس او زده کړې د محدودو امکاناتو په چاپېریال کې د ګټه اخیستنې وړ وي، د **انټرنټ له اړتیا پرته د پوهنیزو سرچینو بانک (IFERB)** ترتیب کړ چې تعاملي بڼه لري او زمونږ په زده کوونکو کې اړین مهارتونه منځته راوړي. مونږ په دوامداره توګه خپل د عامه لاسرسي وړ محتویاتو کې زیاتوالی راولو چې زمونږ په لاندې ورکړې ویبسایټ کې د بېلا بېلو عمرونو لپاره په بېلا بېلو ژبو کې د لاسرسي وړ دي: www.resources.educationaboveall.org

دا لارښود د ۴ پروژو (یوه د یوې اونۍ لپاره) ټولګه ده چې د **IFERB** څخه اخیستل شوې ګڼ شمېر بوختوونکې فعالیتونه لري او د یوې یو-میاشتنۍ زده کړه ییزې تجربې په توګه له یو بل سره په ترلې ډول پېرل شوي دي.

| | |
|---|---|
| **پروژه** | د زده کوونکي په رهبرۍ، عملي پروژې دي چې په ترڅ کې یې هغوی د بنسټیزو اکاډیمیکي مفاهیمو د زده کولو او عملي کولو سره سره د ۲۱مې پېړۍ مهارتونه هم لاسته راوړي. |
| **فعالیت** | له پروژو څخه د هغوی د زده کړې د پیاوړتیا او ملاتړ لپاره د ګډون پر بنسټ ترتیب شوي فعالیتونه دي. |
| **فعالیت** | د ساعت تېرۍ او فزیکي برخه اخیستنې لوبې دي چې د ریاضي مفاهیم تقویه کوي. |
| **د کیسې کتاب** | له لوستلو څخه د مفهوم اخیستنې مهارتونو د تمرین لپاره د لارښودونکو پوښتنو سرېېره، زمونږ د کیسو ټولګې څخه (پرته له دې لارښود څخه) یوه کیسه لوستل دي. |

## د پروژې عمومي کتنه

- تاسو ته د پروژې یوه شرحه او د مهمو زده کړه ییزو لاسته راوړنو، توکو، او د اونۍ د چارو د جریان یوه طرحه درکوي.
- پروژه د لارښودونکې پوښتنې په مطرح کولو او د پروژې په اړه ماشومانو ته انګېزه ورکولو سره پیل کړئ.
- تاسو کولای شئ له وضعیت سره د تناسب لپاره د فعالیتونو تدقیق ترسره او نور فعالیتونه هم اضافه کړئ تر څو له بېلا بېلو زده کړه ییزو اړتیاوو سره سمون ولري. مهرباني وکړئ هیڅ کوم فعالیت مه حذفوئ. دلته له تاسو سره د مرستې په موخه ځینې نښانونه (آئیکنونه) ورکړل شوي چې تاسو به ورسره مخ کېږئ.

| | | |
|---|---|---|
| دا د یو فعالیت د ساده او آسانولو مفکورې دي. | دا د هغه زده کوونکو لپاره، چې ښایي دا ورته ډېر آسانه ښکاره شي/ژر یې بشپړ کړي، د یو فعالیت د لا ننګوونکي جوړولو مفکورې دي. | دا په ذهن کې د ساتلو لپاره معلومات یا مهم ټکي ښیي. |

- پر پروژه څرخېدونکې زده کړه د زده کوونکي غږ او انتخاب دواړه په نظر کې نیسي. هغوی د پروژوې چارو په سر ته رسولو سره زده کړه کوي. نو، په دې برخه کې چې هغوی څنګه خپله زده کړه وړاندې کول غواړي، له نرمښت څخه کار واخلئ.
- د نظرونو د شریکولو او بحثونو لپاره وخت ځانګړی کړئ. دا د هغوی د زده کړې مهم اړخ دی.
- په خپل ځان مهربانه اوسئ. د تدریس او زده کړې له یوې غیردودیزې طریقې سره آشنا کېدل وخت نیسي. کله چې تاسو په دوامداره توګه د دې کار تمرین وکړئ، دا به هم تاسو او هم ستاسو د زده کوونکي لپاره ډېر آسانه او زړه راښکونکی شي!

# د پېژندپانو جوړول

لومړۍ پروژه

| | |
|---|---|
| شرحه | زده کوونکي دي له خپلو دوستانو سره مرکه ترسره کړي او د هغوی لپاره دې د اړیکي ټینګولو، توپیرونو او مشابهتونو په اړه د پوهاوي ترلاسه کولو، او د هغوی د هویت معلوملو په موخه پېژندپاڼي جوړې کړي. |
| اړین توکي | کاغذ، قلم/پنسل، رنګونه (اختیاري) |
| زده کړه ییزې لاسته راوړنې | **د لیک او لوست (سواد) کلیدي لاسته راوړنې:**<br>• د پوښتنې کلمې پېژندل او کارول<br>• صفتي نومونه پېژندل او کارول<br>• د مرکې مهارتونو منځته راوړل<br>• د پیل، منځ، او پای درلودونکې اصلي کیسه لیکل چې خپلو کې منطقي تړاو ولري<br><br>**د عدد پېژندنې کلیدي لاسته راوړنې:**<br>• د معلوماتو د لنډیز چمتو کولو لپاره د خط ته ورته شمېرنې چارټونو (Tally Charts) څخه ګټه اخیستل<br>• له ۱ څخه تر ۱۰ پورې شمېرلو تمرین کول |

## د پروژې عمومي کتنه

**1** خېرنه ترسره کول چې خلک څنګه پېژندل کېدای شي او مشابهتونه/توپیرونه له ملګرو سره شریکول.

**2** د خپلې پېژندپاڼې لپاره یوه نمونه جوړول او د معلوماتو لاسته راوړلو لپاره مرکې پلانول.

**3** د پوښتنو مطرح کولو مهارتونو منځته راوړل او په عددي بڼه راټول شوي معلومات ښودل.

**4** د صفتي نومونو په هکله زده کړه کول او یوه لنډه اصلي کیسه لیکل چې له هغه خلکو څخه په الهام اخیستنې سره لیکل شوې وي چې دوی ورسره تر دې دمه مرکې کړې دي.

**5** ملګري ته خپلې پېژندپاڼې، لنډې کیسې او له پروژې څخه زده کړل شوي موارد ښودل. د شمېرنې د بیاکتنې لپاره د ریاضي لوبه کول.

لومړی ورځ

# د پېژندپاڼو جوړول

**له زده کوونکو سره لاربښودونکو پوښتنو باندې بحث کول:**

**آیا تاسو د خپلې کورنۍ یا دوستانو پېژندپاڼې جوړولای شئ چې ځینې مشابهتونه (ورته والي)، توپیرونه، او د هغوی په تړاو نور شخصي معلومات انځور کړي؟**

په بحث کې د مرستې په موخه، یوه نمونه یي پېژندپاڼه، که شتون ولري، ښکاره کړئ.

*۱۰ دقیقې*

1. زده کوونکي به د پېژندپاڼو د استعمال د مواردو د ډولونو په هکله ګډ مغزي کار ترسره کړي. لاربښودونکي پوښتنې وکړئ:
- د پېژندپاڼو بېلا بېل ډولونه کوم کوم دي؟
- تاسو د پېژندپاڼو استعمال په کومو ځایونو کې ګورئ؟
- تاسو د یوه شخص په هکله د هغوی له پېژندپاڼې څخه کوم معلومات اخیستلای شئ؟

*۱۰ دقیقې*

2. له زده کوونکو سره بحث وکړئ:
- تاسو خلک څنګه پېژنئ؟
- هغه څه شی دی چې خلک یې سارې یا متفاوت ګرځوي؟
- آیا داسې شیان شته دي چې په ټولو خلکو کې ورته والی لري؟

*۱۰ دقیقې*

3. زده کوونکي به خپل بېسارېتوب او ورته والي له خپلو ملګرو سره وپلټي:
- هغه کوم ۵ موارد دي چې له مخې یې هغوی یو بل سره ورته والی لري؟
- د هغوی ترمنځ ۵ توپیرونه کوم کوم دي؟

ماشومان وهڅوئ چې نه یوازې فزیکي ځانګړنې، بلکې د شخصیت اوصاف او لومړیتوبونه هم په نظر کې ولري. (آیا دوی په آسانۍ سره دوستان جوړېږي؟ آیا هغوی فوټبال کول خوښوي؟ او داسې نور).

4. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د لاندینیو مواردو په هکله فکر وکړي:
- آیا مونږ د نورو خلکو په پرتله له خپلو کورنیو سره زیات فزیکي ورته والي لرو؟ تاسو ولې داسې فکر کوئ؟
- ستاسو او ستاسو د مور او پلار/ورونو او خویندو ترمنځ ۵ دا ډول ورته والي ولیکئ. (د سترګې رنګ، د ویښتانو رنګ، قد، او داسې نور).

۵ دقیقې

6. د جینونو (ارثي موادو) مفهوم تشریح کړئ.
- تشریح کړئ چې ځانګړني او اوصاف د والدینو له خوا د هغوی بچیانو ته انتقالیږي، همدا لامل دی چې مونږ له خپلې کورنۍ سره ګڼ شمېر شریک مشابهتونه لرو.
- ځینې ځانګړني او اوصاف د ځینو نورو په پرتله کم روښانه وي، لکه ښی لاسی/کیڼ لاسی کېدل، د غوږ د نښتو نرمیو درلودل، او داسې نور.
- زده کوونکي د جینونو په هکله ټولې هغه پوښتنې، چې ښایي دوی یې ولري، مطرح او د امکاني ځوابونو په اړه یې فکر کولای شي.

تاسو ښايي د هغوی د ټولو پوښتنو ځوابونه و نه لرئ. زده کوونکي وهڅوئ چې د ځوابونو په اړه اټکل وکړي او دا له هغه شواهدو سره پرتله کړئ چې هغوی یې په ګډه سره چمتو کوي.

## فعالیت

***زده کوونکي دا فعالیت د خپلې کورنۍ له غړو سره ترسره کولای شي تر څو خپل جینونه وڅېړي!***

- د کورنۍ د نسب شجره (ونه) رسم کړئ – څومره چې کولای شئ، ماضي ته ولاړ شئ! (زده کوونکي دا کار د کورنۍ دندې په توګه ترسره کولای شي او کولای شي چې بېرته راشي او په خپلو موندنو بحث وکړي.)
- د تعقیبولو لپاره ۱ یا ۲ فزیکي اوصاف غوره کړئ:
  د سترګې رنګ، د ویښتانو رنګ، ونه، د پزې شکل، او داسې نور.
- دا د کورنۍ هر غړي ته څرمه ولیکئ.
- تاسو وګورئ چې څنګه اوصاف هر نسل ته انتقالیږي. آیا د نسلونو ترمنځ یوه مشترکه ځانګړنه شتون لري؟




7. په دې پروژه کې، زده کوونکي به خپلې پېژندپاڼې جوړوي. زده کوونکي باید پرېکړه وکړي چې هغوی د چا لپاره پېژندپاڼې جوړول غواړي. زده کوونکي باید د هغه پېژندپاڼو چې دوی به یې جوړوي، د مقصد په اړه فکر وکړي (د ملګرتیا ثبوت، د هغوی تخیلي نړۍ ته د ننوتو اجازه، او داسې نورا!)

۵ دقیقې

زده کوونکي د هر مقصد لپاره پېژندپاڼې جوړولای شي! هغوی د 'واقعي' پېژندپاڼو جوړولو ته مه اړ باسئ.

دویمه ورځ

# د پېژندپاڼو جوړول

***زده کوونکي به يوه پېژندپاڼه د خپل ځان او د خپلې کورنۍ د غړو لپاره جوړوي.***

۵ دقيقې

1. د خپلو پېژندپاڼو د مقصد پر بنسټ، زده کوونکي له خپلو ملګرو سره هغه معلومات شريکوي چې دوی يې شاملول غواړي.

1. د ملګرو د نظرونو پر بنسټ، هغوی کټګوريو کې بدلون راوستلای شي/کټګورۍ اضافه کولای/حذفولای او يوه نمونه ترتيبولای شي.
(لږ تر لږه بايد ۱۰ کټګورۍ وي)

نمونه:




له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د شخص په هکله د عادي معلوماتو، لکه د هغوی نومونه، عمر، د زوکړې ورځ، او داسې نور، هاخوا نور جزئيات هم شامل کړي.

۱۰ دقيقې

2. زده کوونکي به د **خپلو ځانونو** لپاره پېژندپاڼې جوړې او خپلو ملګرو ته يې وښيي. هغوی په دې اړه چې د يو بل په پېژندپاڼو کې يې څه شی خوښ شو، خپل نظرونه شريکوي.

3. زده کوونکي به څېړنه ترسره کړي:

۱۰ دقيقې

- هغه کومې بېلا بېلې طريقې دي چې پر مټ يې مونږ له يو شخص څخه معلومات اخيستلای شو؟ (فورمې، مرکې او داسې نور).
- د هرې طريقې ګټې او زيانونه کوم کوم دي؟
- تاسو به د خپلو دوستانو او خپلې کورنۍ لپاره د پېژندپاڼو جوړولو لپاره، کومه طريقه غوره کوئ؟

له زده کوونکو سره د مرستې لپاره چې د معلوماتو د راټولولو نورو اړخونو ته پام وکړي، لارښوونې پوښتنې وکړئ – لکه وخت، د استعمال آسانتيا، د خلکو د ليکلو او خبرې کولو ورتياوې او داسې نور.

۵ دقیقې

4. زده کوونکي د خپلې خوښې سره سم د هرې طریقې، چې خوښه یې شوه، له لارې معلومات راټولولای شي. خو، مهمه دا ده چې هغوی لږ تر لږه له یوه کس سره مرکه وکړي. د مرکې د مهارتونو د منځته راوړلو او پراختیا د ارزښت په تړاو د هغوی د پوهې د لوړولو لپاره لاندینۍ پوښتنې وکړئ:

- آیا تاسو کله مرکه لیدلې یا مو یې په اړه لوستلي دي؟ (تلویزیون، ورځپاڼې، او داسې نور)
- د مرکو مقصد څه دی؟ (دندې، خبرونه، د پولیسو رپوټونه، څېړنه او داسې نور).

5. زده کوونکو ته تشریح کړئ:

۵ دقیقې

- په مرکو کې عموماً دوه کسه ښکیل وي. – یو کس چې پوښتنې کوي او یو بل کس چې ځوابونه وایي.
- ښه مرکچیان ښه چمتووالی لري او پوهېږي چې هغوی له یوه شخص څخه دقیقاً کومو معلوماتو ته اړتیا لري. د دې لپاره، هغوی د پوښتنو یو لست چمتو کوي.

۱۰ دقیقې

## فعالیت

***زده کوونکي د پوښتنو عادي کلمې څېړي.***

- زده کوونکي باید د هغه پوښتنو په باره کې فکر وکړي چې هغوی یې له یوه نوي ټولګیوال څخه د هغوی د ښه پېژندلو لپاره پوښتل غواړي. د بېلګې په ډول، 'ستا نوم څه دی؟' 'ته چېرته اوسېږې؟' او داسې نور.
- بیا، هغوی باید اورمرو په ګروپي ډول بحث وکړي او هغه عادي کلمې په ګوته کړي چې دوی ورسره خپلې پوښتنې پیل کړې وي.

۱۰ دقیقې

6. د پوښتنې کلمې تشریح کړئ: څوک، څه، چېرته، کله، ولې، څنګه.

- **څوک:** د یوه شخص په هکله پوښتنه مطرح کوي. لکه، ستا تر ټولو نژدې دوست څوک دی؟
- **څه:** د یوه شي په هکله پوښتنه مطرح کوي: لکه، ستا نوم څه دی؟
- **چېرته:** د یوه ځای په هکله پوښتنه مطرح کوي. لکه، ته چېرته اوسېږې؟
- **کله:** د یو وخت په هکله پوښتنه مطرح کوي. لکه، ستا د زوکړې ورځ کله ده؟
- **ولې:** د یوه لامل/سبب په هکله پوښتنه مطرح کوي. لکه، ته رنګ کول ولې خوښوې؟
- **څنګه:** د یوه کار د ترسره کولو د طریقې په هکله پوښتنه مطرح کوي: لکه، ته ښوونځي ته هره ورځ څنګه راځې؟

7. زده کوونکي کولای شي د پوښتنو کلمو درلودونکی یو چارټ له رسمونو سره، چې په ډاګه کوي کلمه څه ډول پوښتنه مطرح کوي، جوړ کړي.

| | |
|---|---|
| څه | څوک |
| چېرته | کله |

۱۰ دقیقې

6. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې خپل د پېژندپاڼې نمونو او اړینو معلوماتو ته وګوري. هغوی به د هغه پوښتنو یو لست جوړوي چې له خپلو دوستانو او د کورنۍ غړو څخه به یې پوښتي. کله چې دا کار سر ته ورسېد، هغوی دا د نظرونو لپاره له خپلو ملګرو سره شریکولای شي.

زده کوونکو ته ور په یاد کړئ چې کله هغوی نوې مفکورې ترلاسه کوي نو په نمونو کې بدلون راوستل یا بدلول یې په بشپړه توګه یو سم کار دی. په حقیقت کې، د دې کار کول هڅول کېږي!

7. زده کوونکو ته خبر ورکړئ چې هغوی باید د کورنۍ لږ تر لږه ۲ غړو سره مرکې وکړي او د هغوی لپاره پېژندپاڼې جوړې کړي.

درېیمه ورځ

# د پېژندپاڼو جوړول

***زده کوونکي د پوښتنې کولو مهارتونه لاسته راوړي، د خپلو ملګرو لپاره پېژندپاڼې جوړوي، او د دوی ترمنځ د مشابهتونو او توپیرونو شننه ترسره کوي.***

۱۰ دقیقې

1. زده کوونکي د خپلې کورنۍ غړو سره د مرکې کولو تجربه شریکوي او د هغوی پېژندپاڼې ښيي:
   - آیا تاسو د خپلې کورنۍ غړي په باره کې نوی کوم شی وموند؟
   - ستاسو په اند مرکه څنګه ترسره شوه؟ آیا داسې کوم شی و چې په لا ښه توګه مو ترسره کولای شو؟

## فعالیت

***زده کوونکي د پوښتنې د عادي کلمو بیاکتنه ترسره کوي:***

زده کوونکي په ګډه سره د پوښتنې عادي کلمې په یوه لست کې ترتیبوي:

**څوک، څه، چېرته، کله، ولې، څنګه.**

- اوس، زده کوونکي په یوه دایره کې درېږي، او یو توپ یو بل ته اچوي. هغه کس چې توپ اچوي، باید د پوښتنې یوه کلمه په لوړ غږ سره ووايي. توپ نیوونکی کس باید د اړونده کلمې په کارولو سره یوه پوښتنه وکړي.

۵ دقیقې

2. په یوه فورمه یا پوښتنپاڼه کې د پوښتنو د مطرح کولو له لارې د معلوماتو د راټولولو د یوې بلې طریقې په توګه د سروې ګانو نظریه تشریح کړئ.

۱۰ دقیقې

3. هغوی دې له خپلو دوستانو څخه د معلوماتو راټولولو لپاره یوه سروې ترتیب کړي چې لږ تر لږه ۱۰ پوښتنې ولري، تر څو د هغو (د خپلو دوستانو) پېژندپاڼې جوړې کړي. سروې باید ډول ډول پوښتنې ولري.

**بېلګه:**

| ۳ پرانېستې پوښتنې | ۴ ګڼ انتخابي پوښتنې | ۳ هو/نه پوښتنې |
|---|---|---|
| ته کومه ژبه زده کول غواړې؟ | ستا د خوښې رنګ کوم یو دی: تور، آسماني رنګ، ژېړ | آیا ته له رسم کارولو څخه خوند اخلې؟ |

۱۰ دقیقې

4. زده کوونکي له درې یا زیاتو ملګرو څخه د سروې فورمې د ډکولو غوښتنه کوي.

## فعالیت

۱۵ دقیقې

***زده کوونکي به د شمېرنې سمبولونو (Tally Marks) په کارولو سره خپل معلومات/اطلاعات ښيي.***

- یو ځل چې زده کوونکي خپل اطلاعات راټول کړي، له هغوی څخه د بحث کولو غوښتنه وکړئ چې هغوی لپاره د یو بل په هکله په ترلاسه شویو معلوماتو کې څه شی حیرانوونکی/په زړه پورې و؟
- زده کوونکي د شمېرنې سمبولونو (tally marks) څخه په ګټه اخیستنې سره د سروې اطلاعات د خپلو او د خپلو دوستانو د خوابونو د جدول بندۍ له لارې تحلیل او تجزیه کولای شي. د بېلګې په ډول:

| کټګوري | د شمېرنې یا خط کاږنې سمبولونه (Tally Marks) | ټولټال نومرې |
|---|---|---|
| د خوښې رنګ: تور | ااا | ۳ |

هغوی وهڅوئ چې له انځوریزو سمبولونو (نښانونو/Pictograms) څخه په ګټه اخیستنې سره وښيي چې د هغوی دوستان څومره سره ورته والی لري. د بېلګې په ډول:

| | | | |
|---|---|---|---|
| تور وېښتان | ااا | ۳ |  |

5. زده کوونکي کولای شي لږ تر لږه د یو دوست لپاره پېژندپاڼه جوړه کړي (او د زیاتو پېژندپاڼو جوړولو لپاره آزادي لري). پېژندپاڼه کې باید له سروې څخه هم معلومات شامل کړل شي.

په دې طریقې سره، زده کوونکي له یوې شفاهي سرچینې (مرکې) او یوې لیکلې سرچینې (سروې) څخه د معلوماتو د وړاندې کولو تمرین کوي.

خلورمه ورځ

# د پېژندپاڼو جوړول

***زده کوونکي به ځانونه له صفتي نومونو سره بلد کړي او يوه لنډه اصلي کيسه به له هغه خلکو څخه په الهام اخيستلو سره وليکي چې دوی تر دې دمه مرکه ورسره کړې ده.***

۱۰ دقيقې

1. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې خپل ۴ صفتونه وليکي يا په شفاهي توګه تشريح کړي. د بېلګې په ډول، لوړه ونه، خندوونکی، شوخ، د تورو وېښتان درلودونکی.

۱۰ دقيقې

2. تشريح کړئ چې هغه کلمې چې دوی يې د خپلو ځانونو يا نورو شيانو د تشريح کولو لپاره کاروي، صفتي نومونه بلل کېږي. هغوی تشريح کولای شي:

- : *توره پيشو،آسماني رنګه* توپ، *سپين* وېښته
- نور فزيکي صفتونه: *نرم* پوستين، *زيږ* مېز، *قدبلنده (دنګه)* نجلۍ، *شورکوونکی* موټر
- د شخصيت اوصاف: خوښ طفل/ماشوم، شوخ کم عمره هلک، زړوره مېرمن
- خوند: *خواږه* انګور، *تروه* شيريني، *ترخه* درمل

## فعاليت

۱۵ دقيقې

***زده کوونکي به د صفتي نومونو د کارولو لپاره لوبه کوي.***

- د ۳ يا ۴ کسيزو زده کوونکو ډلو سره لوبه وکړئ.
- هغوی ته يو شی، شخص، يا ځاروی ورکړئ.
- هر ټيم بايد د اړونده شي د تشريح کولو لپاره په ۳۰ ثانيو کې څومره ډېر چې کولای شي، صفتي نومونه چمتو کړي.
- د زياتو صفتي نومونو چمتو کوونکې ډله د اړونده پړاو ګټونکې ده.

3. زده کوونکي به د يوې کيسې د ليکلو/انځورولو لپاره صفتي نومونه کاروي.

۵ دقيقې

لانديني موارد له زده کوونکو سره تر بحث لاندې ونيسئ:

- د کورنۍ د غړو او دوستانو په اړه، چې تاسو ورته پېژندپاڼې جوړې کړې، فکر وکړئ. تاسو لپاره څوک واقعاً په زړه پورې يا الهام بخښونکی دی؟
- د هغوی کوم ځانګړې صفتونه دي چې تاسو ته دا ډول احساس درکوي؟
- تاسو څنګه هغوی سره ورته والی يا توپير لرئ؟

۳۰ دقیقې

2. زده کوونکي به د دغه شخص په پام کې نیولو سره یوه کیسه لیکي. تشریح کړئ چې کیسې پیل، منځ او پای لري. هغوی ته د کیسې لیکلو د ټول بهیر لارښوونه وکړئ:

زده کوونکي کولای شي د خپلې کیسې لپاره شعرونه ولیکي، اوځندوونکي رسمونه رسم کړي او داسې نور کارونه وکړي. کیسه غیرحقیقي کېدای شي او اړینه نه ده چې اصلي کردار دې پې پخپله دا شخص وي (باید یوازې د هغوی په پام کې نیولو پر بنسټ وي).

| | |
|---|---|
| پیل | شخص معرفي کړئ. هغه څنګه ښکاري؟ هغه چېرته دی؟ څه کوي؟ |
| منځ | هغه به په کیسه کې له کومې ستونزې سره مخامخ کېږي؟ هغه به د ستونزې د هوارې لپاره له خپلو ځانګړو صفتونو څخه څنګه ګټه اخلي؟ صفتي نومونه وکاروئ! |
| پای | دا ستونزه څنګه هوارېږي؟ د کیسې په پای کې څه کېږي؟ |

۱۰ دقیقې

3. زده کوونکي به د نظرونو د شریکولو په موخه خپلې کیسې له خپلو ملګرو سره شریکوي:

- په کیسه کې څه شی ستاسو تر ټولو زیات خوښ شو؟
- څه شی لا ښه کېدای شي؟

4. زده کوونکي به د نظرونو پر بنسټ د کیسې بیاکتنه ترسره کوي. هغوی وهڅوئ چې کیسه هغه کس ته واوروي چې دوی یې په اړه لیکلې او د هغوی پېژندپاڼې سره ورته نښې نښانې لري!

پنځمه ورځ

# د پېژندپاڼو جوړول

***زده کوونکي به خپلې پېژندپاڼې، کیسې او زده کړې شیان وړاندې کوي.***

۱۰ دقیقې

1. زده کوونکي د وړاندوینې لوبه کولو ته راوبولئ – مخکې له دې چې د هغوی کارتونه وویشل شي، زده کوونکی باید له پېژندپاڼې څخه اشارې شریکې کړي چې خلکو لپاره دا وړاندوینه کول ستونزمنوي چې کارت د چا په اړه دی! د بېلګې په ډول، 'دا شخص پیشوګانې خوښوي، په نوم کې یې د (ا) توری راځي، او ۲ نژدې دوستان لري'.

زده کوونکي له خپلو جوړو کړو پېژندپاڼو څخه په ګټه اخیستنې خپلې لوبې هم جوړولای شي!

۱۰ دقیقې

2. زده کوونکي وهڅوئ چې له خپلو دوستانو څخه نظرونه ترلاسه کړي:
   - آیا هغوی خپله پېژندپاڼه خوښه کړه؟
   - آیا هغوی نور بدلونونه راوستل یا يې نور شکلی کول (تزئینول) غوارړي؟

۵ دقیقې

3. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې خپلې لنډې کیسې/کاریکاتوري پارچې له خپلو سیالانو سره شریکې کړي.

۵ دقیقې

4. په لاربښودونکي پوښتنه باندې نظر واچوئ: آیا تاسو د خپلې کورنۍ یا دوستانو لپاره داسې پېژندپاڼې جوړولای شئ چې ځینې مشابهتونه، توپیرونه، او بعضې نور شخصي معلومات پکې رانغښتي وي؟

۱۰ دقیقې

5. زده کوونکي له خپلو ملګرو سره بحث کوي او یاداښت اخلي:
   - هغه کوم نوي شیان دي چې هغوی د دې پروژې په ترڅ کې زده کړل؟
   - څه شی هغوی لپاره آسانه ثابت شو؟ څه شی ننګوونکی و؟
   - هغوی په بله پروژه کې څه شی د اوس په پرتله په لا ښه توګه ترسره کولای شي؟

## د ریاضي لوبه

۱۵ دقیقې

***زده کوونکي له ۱ څخه تر ۱۰ پورې عددونو د بیاکتنې لپاره په کتار کې د تنظیمېدو لوبه ترسره کوي.***

- زده کوونکي لږ تر لږه په دوه ۱۰ کسیزه ډلو وویشئ. (تاسو کولای شئ د ۷، ۸، یا ۹ کسانو ډله ولرئ، که اړتیا وه)
- د ټیم د هر غړي په شا پر یوه کاغذ له ۱ څخه تر ۱۰ پورې لیکلی یو عدد ونښلوئ.
- زده کوونکي باید په چټکۍ سره ځانونه د خپلو عددونو، د تر ټولو ټیټ څخه تر ټولو غټ عددپورې په ترتیب سره، په کرښه کې تنظیم کړي.
- لومړی ټیم چې په سمه توګه خپله کتار جوړونه سر ته رسوي، ګټونکی دی.

دویمه پروژه

# زما زړه راښکونکي پیشو

| | |
|---|---|
| شرحه | زده کوونکي به د عددونو د شمېرلو او لیکلو د مفهوم اخیستلو لپاره خپله پیشو ډیزاینوي. |
| اړین توکي | کاغذ، قلم/پنسل<br>زړي ورځپاڼي/چارټونه<br>رنګونه (اختیاري) |
| زده کړه ییزې لاسته راوړنې | **د عدد پېژندنې کلیدي لاسته راوړنې:**<br>• له ۲۱ څخه تر ۳۰ پورې عددونه شمېرل<br>• په عبارتي بڼه له صفر څخه تر لس پورې عددونه لیکل<br>• په ټوپ وهلو سره عددونه شمېرل (Skip counting numbers)<br><br>**د ۲۱مې پېړۍ مهارتونه:**<br>• د خپل هنري کار په ډیزاینولو کې خلاقیت<br>• هغوی ته د ښودل شوي کار په هکله د نظر شریکول |

## د پروژې عمومي کتنه

**1** د ۲۱ او ۲۲ عددونو شمېرل او لیکل زده کول. د خپلې پیشو ’بربټونه‘ جوړول.

**2** د ۲۳، ۲۴، او ۲۵ عددونه زده کول او له یو تر پنځه پورې په عبارتي بڼه لیکل. د خپلې پیشو ’بربټونه‘ جوړول.

**3** د ۲۶، ۲۷، او ۲۸ عددونه زده کول، او له شپږ تر لس پورې په عبارتي بڼه لیکل. د خپلې پیشو لپاره نور ’بربټونه‘ جوړول.

**4** د ۲۹ او ۳۰ عددونه زده کول او ټوپ وهلو شمېرلو (skip count) څرنګوالی زده کول.

**5** خپله پیشو پوره کول، خپلو ملګرو ته یې ښودل او د ټوپ وهلو شمېرلو (skip-counting) د تمرین لپاره یوه لوبه کول


لومړی ورځ

# زما زړه راښکونکې پیشو

۵ دقیقې

له زده کوونکو سره په لاربشودونکو پوښتنو باندې بحث وکړئ:

**آیا تاسو یوه پیشو رسمولای او برېتونه یې شمېرلای شئ؟**



په بحث کې د مرستې لپاره، لاندینۍ پوښتنې وکړئ:

- وِسکرز (Whiskers) یا برېتونه څه ته وايي؟
- ستاسو په اند حیوانات ولې برېتونه لري؟
- آیا تاسو د بل کوم حیوان نوم اخیستلای شئ چې برېتونه لري؟

## فعالیت

۱۰ دقیقې

**زده کوونکي د یوې لوبې په اجراء کولو سره له ۱ څخه تر ۱۵ پورې عددونه تکراروي.**

زده کوونکي کولای شي په ډلګیو کې لوبه وکړي.

- له ۱ نه تر ۲۰ پورې عددونو څخه یو عدد په لوړ غږ ووایاست.
- هر ټیم باید همدغه شمېر شیان له خپل شاوخوا څخه راټول کړي.
- کوم ټیم چې دا کار تر نورو وړاندې په ښه توګه ترسره کوي، یوه نومره ګټي.
- په پای کې تر ټولو زیاتې نومرې ترلاسه کوونکی ټیم ګټونکی دی.

۱۵ دقیقې


1. زده کوونکي د لاندینیو کارونو په اجراء کولو سره د ۲۱ او ۲۲ عددونه څېړي:
- له زده کوونکو څخه د بحث کولو غوښتنه وکړئ چې چېرته هغوی ښايي له ۲۰ څخه پورته عددونو شمېرلو ته اړتیا ولري.
- له ۲۰ څخه پورته شیانو د شمېرلو لپاره هغوی کوم عددونه کاروي؟
- تشریح کړئ چې څرنګه مونږ له ۱۰ څخه پورته په ۱۱، ۱۲، ۱۳ او داسې نور سره شمېرو، همدارنګه مونږ په ۲۱ او ۲۲ او داسې نور سره له ۲۰ څخه پورته شمېرنه کوو.
- د ۲۱ او ۲۲ عددونه او د دوی د لیکلو څرنګوالی معرفي کړئ.

2. زده کوونکي په بېلا بېلو طریقو سره د ۲۱ او ۲۲ عددونو لیکل تمرینوي (هره طریقه مو چې خوښه وي، غوره یې کړئ):
- په کاغذ باندې د ګوتې په ګرځولو سره تعقیبول: په کاغذ باندې ۱۰ ځلې د ګوتې په ګرځولو سره تعقیب کړئ.
- په خاوره/شګه لیکل: د ۲۱ او ۲۲ عددونه په ځمکه ولیکئ.
- په هوا کې رسمول: د لاسي حرکتونو په مرسته په هوا کې د لیکلو تمرین وکړئ.

## فعالیت

**۱۰ دقیقې**

***زده کوونکي به د ’شمېرلو چارټ‘ جوړوي.***





په یو کاغذ باندې، زده کوونکي دې د ۲۱ عدد ولیکي او څنګ ته یې ۲۱ شیان رسم کړي.
په بل کتار کې دې هغوی د ۲۲ عدد ولیکي او څنګ ته یې ۲۲ شیان رسم کړي.



زده کوونکي د خپلې خوښې هر شی رسمولای شي. دا شکلونه یا سمبولونه هم کېدای شي!

**۱۵ دقیقې**

3. زده کوونکي به د خپلې پېشو ’برېټونه‘ جوړول پیل کړي:
- د یو بالغ کس په مرسته، هغوی باید په مستطیلي شکل ۱۰ نرۍ پټې پرې کړي (په تقریبي ډول په اوږدوالي کې د هغوی د ۵ ګوتو برابر).
- که ممکن وي، زده کوونکي خپلې خوښې سره سم برېټونو ته رنګ ورکولای شي.
- هغوی باید ۲ پټې راواخلي. په هره پټۍ، لکه څرنګه چې ښودل شوي، هغوی باید عدد ولیکي او په هماغه اندازه دایرې (یا بل کوم شکل) دې رسم کړي. زده کوونکي باید دا کار د ۲۱ او ۲۲ عددونو لپاره ترسره کړي




4. زده کوونکي باید دا دوه پټۍ له ځان سره وساتي.

# زما زړه راښکونکې پیشو

**دویمه ورځ**

***زده کوونکي به د نورو برېټونو د جوړولو لپاره د ۲۳، ۲۴، او ۲۵ عددونه زده کوي.***

**۵ دقیقې**

1. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د ۲۱ او ۲۲ عددونو د بیاکتنې لپاره لاندیني کارونه ترسره کړي:
- له یو ملګري سره، له ۱۰ څخه تر ۲۲ پورې ولیکئ
- د ۲۱ او ۲۲ عددونه ولیکئ او خپل ملګري ته یې وښایاست چې آیا سم دي.

*۱۰ دقیقې*

2. زده کوونکي به له صفر څخه پنځه پورې په عبارتي بڼه د کلمو د لیکلو څرنګوالی زده کوي.

- زده کوونکي هر عدد لږ تر لږه درې ځلې په کاغذ لیکي یا په شګه یا خاوره کې یې په ګوتې سره لیکي.

## فعالیت

***زده کوونکي به د یوه رسم په مرسته د لیکلو او شمېرلو تمرین کوي.***

*۱۵ دقیقې*

- زده کوونکي باید د خپلې خوښې سره سم لاندیني تش ځایونه له صفر څخه تر پنځه عددونو پورې ډک کړي:
  - ____________ښځې
  - ____________پلورنځي
  - ____________وریځې
  - ____________سړي
  - ____________ماشومان
  - ____________ټوکرۍ
  - ____________خولۍ
- وروسته، زده کوونکي باید خپل لستونه له یوه ملګري سره تبادله او په عدد کې د ورکړل شویو توکو درلودونکي بازار/مارکیټ یوه صحنه رسم کړي. د بېلګې په ډول، که لست وایي 'درې پلورنځي'، هغوی باید درې پلورنځي رسم کړي.
- کله چې دا کار وشو، ملګري باید وګوري چې آیا رسم د هغوی لست سره سمون خوري که څنګه؟

له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د یوه شي ۲۱ یا ۲۲ واحدونه رسم کړي، لکه د وښو ۲۱ تېغونه (ډکي) یا په یو پلورنځي کې ۲۲ مڼې.

*۱۰ دقیقې*

3. د ۲۳، ۲۴، او ۲۵ عددونو لیکلو څرنګوالی تشریح کړئ. زده کوونکي کولای شي په کاغذ باندې په ګوته ګرځولو سره تعقیب کړي، په هوا یا خاوره/شګه کې یې رسم کړي. هغوی وهڅوئ چې لږ تر لږه ۱۰ ځلې دا عددونه په لیکلو سره تمرین کړي.

*۱۰ دقیقې*

4. زده کوونکي دې د ۲۳، ۲۴، او ۲۵ عددونه خپل د شمېرلو چارټ ته ورزیات کړي.

له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د عددونو نومونه خپل چارټ اضافه کړي!

۱۵ دقیقې

5. زده کوونکي باید د کاغذ په درې جلا پټیو د ۲۳، ۲۴، او ۲۵ عددونو لپاره د خپلې پیشو برېتونه جوړ کړي (لکه څرنګه چې په لومړۍ ورځ یې جوړ کړي).

۵ دقیقې

6. زده کوونکي باید 'برېتونه' خپلو ملګرو ته وښيي او بحث وکړي:
- ستاسو د هغوی د کار په برخه کې څه شی خوښ شو؟
- آیا د هغوی په کار کې داسې برخې شته دی چې لا ښه کېدو ته اړتیا لري؟

دریمه ورځ

# زما زړه راښکونکې پیشو

***زده کوونکي به د نورو برېتونو د جوړولو لپاره د ۲۶، ۲۷، او ۲۸ عددونه زده کړي.***

## د ریاضي لوبه

۱۰ دقیقې

***زده کوونکي به د ۱ نه تر ۲۵ عددونو بیاکتنه ترسره کړي.***

- د خپلې کورنۍ د غړو او د خپلو نږدې دوستانو له جملې څخه د عددونو/شمېرو په ترتیب سره د خلکو یو لست جوړ کړئ.
- تاسو ځینې له هغوی څخه انځورولای او د هغوی نومونه هم لیکلای شئ!
- ستاسو په لست کې د څو کسانو عمر تر ۲۵ کلونو ټیټ دی؟ که تاسو ته معلوم وي، عمر یې ولیکئ.
- خپل لست له یو ملګري سره شریک کړئ

۵ دقیقې

1. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ د لاندینیو پوښتنو په هکله په فکر کولو او له یو ملګري سره د بحث په کولو سره د ۲۶، ۲۷، او ۲۸ عددونه وڅېړي:
- ستاسو په اند د ۲۵ نه وروسته کوم ۳ عددونه راځي؟
- تاسو څنګه دا وړاندوینه وکړه؟
- آیا تاسو فکر کولای شئ چې دغه عددونه به څنګه لیکئ؟

۱۵ دقیقې

2. زده کوونکي کولای شي په کاغذ باندې د ګوتې په ګرځولو، او په هوا یا خاوره/شګه کې په رسمولو سره د دغه عددونو د لیکلو تمرین وکړي. هغوی وهڅوئ چې هر عدد لږ تر لږه ۱۰ ځلې په لیکلو سره تمرین کړي.

۱۰ دقیقې

3. زده کوونکي دې د ۲۶، ۲۷، او ۲۸ عددونه خپل د لیکلو چارټ ته ورزیات کړي.

۱۵ دقیقې

4. زده کوونکي باید د کاغذ په درې جلا پټیو باندې د ۲۶، ۲۷، او ۲۸ عددونو لپاره د خپلې پیشو برېتونه جوړ کړي.

۱۰ دقیقې

5. زده کوونکي به زده کړي چې په عبارتي بڼه له شپږ نه تر لس پورې شمېرې څنګه لیکل کېږي.

- زده کوونکي هر عدد په کاغذ باندې لږ تر لږه درې ځلې په عبارتي بڼه لیکي یا یې په شګه یا خاوره کې په ګوتو سره لیکي.

## د بیدارۍ (ذهني چمتووالي) تمرین

۱۰ دقیقې

***زده کوونکي دا تصور کولو سره چې دوی څپې دي، د بیدارۍ (ذهني چمتووالي) تمرین کوي.***

- آرام کښېنئ.
- درې ځلې ژوره ساه واخلئ او وباسئ.
- تصور وکړئ چې تاسو د اوبو یوه څپه یاست چې بحر کې بهېږي.
- د اوبو د بهېدو، د هوا د لګېدو او د مارغانو د چغار غږونو ته غوږ شئ.
- احساس وکړئ چې لمر ډېر روښانه ځلېږي.
- اوس، په داسې حال کې چې تاسو ځان د یوې څپې په توګه د بهېدو په حال کې انګېرئ، یا په یوه سطحه باندې په خپلو ګوتو سره د څپې د لوړو ژورو د حس کولو یا د څپو د حرکت د منځته راوړلو لپاره له خپل لاس څخه کار واخلئ.
- ۲۸ ادا ډول لوړې ژورې په دوامداره توګه جوړې کړئ.
- دې دوران ته تر هغې پورې ادامه ورکړئ تر څو چې ځانونه راحت احساس کړئ.

# زما زړه راښکونکې پیشو

خلورمه ورځ

***زده کوونکي به د نورو برېتونو د جوړولو لپاره د ۲۹ او ۳۰ عددونه زده کوي.***

۵ دقیقې

1. زده کوونکي باید بحث وکړي چې هغوی تر اوسه پورې له ۲۰ نه وروسته کوم عددونه زده کړي دي.
له هغوی څخه د وړاندوېنې کولو غوښتنه وکړئ چې نن به هغوی نور کوم دوه عددونه زده کوي.

۵ دقیقې

2. د ۲۹ او ۳۰ عددونه تعریف کړئ.
له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې له ۲۰ څخه تر ۳۰ پورې عددونه له خپل ملګري سره په نوبتي ډول وشمېري.

۱۵ دقیقې 3. زده کوونکي کولای شي دا عددونه په کاغذ باندې په ګوته ګرځولو سره تعقیب کړي، په هوا یا خاوره/شګه کې يې رسم کړي. هغوی وهڅوئ چې لږ تر لږه ۱۰ ځلې دا عددونه په لیکلو سره تمرین کړي.

۱۰ دقیقې 4. زده کوونکي دې د ۲۹ او ۳۰ عددونه خپل د شمېرلو چارټونو ته ورزیات کړي.

۱۰ دقیقې 5. زده کوونکي باید د کاغذ په جلا پټیو باندې د ۲۹ او ۳۰ عددونو لپاره د پیشو برېتونه جوړ کړي.

۱۵ دقیقې 6. زده کوونکي باید د لاندې کارونو په ترسره کولو سره د ټوپ وهنې شمېرل (skip-counting) وځېړي:

- هغوی باید له صفر څخه تر ۳۰ پورې د عددونو یوه کرښه رسم کړي، لکه څرنګه چې ښودل شوي.




۲، ۴، ۶، ___، ___، ___، ___، ___، ___، ___، ___، ___، ___، ۳۰

- د ۵ په اندازه له عددونو څخه ټوپ وهل:

۵، ۱۰، ___، ___، ___، ___

- د ۱۰ په اندازه له عددونو څخه ټوپ وهل:

۱۰، ___، ___.

له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د نورو عددونو، لکه ۳، ۴، او ۷ پر بنسټ له عددونو څخه د شمېرلو پر مهال ټوپ وهل او د مرستې لپاره د عدد کرښې له کارولو څخه دې ډډه وکړي.

پنځمه ورځ

# زما زړه رابښکونکي پیشو

***زده کوونکي به خپله پیشو جوړوي او خپلو ملګرو ته به يې ښيي.***

## د ریاضي لوبه

۱۵ دقیقې

***د زنګ/Buzz لوبې په اجراء کولو سره زده کوونکي د شمېرلو پر مهال له عدد څخه ټوپ وهل ترسره کوي.***


- په ۴ یا ۶ کسیزو ګروپونو کې لوبه وکړئ.
- په یوه دایره کې کښېنئ. یو لوبغاړی له ۱ څخه شمېرنه پیلوي. هر لوبغاړی په ترتیب سره بل عدد په لوړ غږ سره وايي په داسې حال کې چې تاسو د دایرې شاوخوا قدم وهئ.

(ادامه ..)

- هر ځل چې عدد د ۵ په اندازه د ټوپ وهلو عدد شمېرلو ته رسېږي، چې عبارت له ۵، ۱۰، ۱۵، ۲۰، ۲۵، یا ۳۰ څخه دی، لوبغاړی باید د عدد پر ځای د زنګ/Buzz’ کلمه ووایي.
- که لوبغاړی د بز ویل هېر کړی، هغه سوځېدلی دی او شمېرنه باید بېرته له ۱ څخه پیل شي.
- په لوبه کې تر پایه پاتېدونکی لوبغاړی ګټونکی دی!

له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د بز کلمه په ګڼو نورو عددونو، لکه ۳ یا ۷، سره ووایي.

**۲۰ دقیقې**



1. زده کوونکي باید اوس د خپلې پیشو جسم جوړ کړي. هغوی کولای شي خومره تفصیلات چې وغواړي، اضافه یې کړي. ډاډ ترلاسه کړئ چې هغوی یو لوی جسم جوړ کړي تر څو وکولای شي برېتونه ورپورې ونښلوي.
- هغوی کولای شي یوه دایره د مخ لپاره او بیا یوه لویه دایره د جسم لپاره رسم کړي.
- هغوی کولای شي نور تفصیلات، لکه سترګې، خوله، غوږونه، پښې، او یوه لکۍ پکې اضافه کړي.
- وروسته، زده کوونکي باید خپل جوړ کړي برېتونه په ترتیب سره له ۲۱ څخه تر ۲۵ پورې په یوه اړخ او له ۲۶ څخه تر ۳۰ پورې په بل اړخ تنظیم کړي او وې نښلوي.

**۱۰ دقیقې**

2. زده کوونکي کولای شي خپلې پیشو ته نوم ورکړي او د نظر شریکولو لپاره یې خپل ملګري ته وښیي.

- زما پیشو ولې ستاسو له هغې څخه توپیر لري؟
- زما پیشو کې ستا څه شی خوښ شو؟
- کوم داسې موارد وو چې لا ښه والی پکې راوستل کېدای شول؟

## فعالیت

**۱۰ دقیقې**

***زده کوونکي دې خپل د شمېرلو چارټ وړاندې کړي.***

- زده کوونکي دې خپل د شمېرنې چارټونه له خپلو ملګرو سره تبادله کړي.
- ملګري کولای شي اټکل وکړي چې هغوی د یوه بل لپاره کوم رسمونه جوړ کړي دي.

- ملګري به کره کتنه وکړي او تېروتنې به، که وي، اصلاح کړي.
- زده کوونکي له خپلو ملګرو سره بحث کوي:
  - د هغوی د شمېرنې چارټ کې مو څه شی تر ټولو زیات خوښ شو؟
- - آیا ستاسو چارټونه مشابه ښکاري یا ډېر توپیر لري؟ وشمېرئ چې څومره شیان/توکي ستاسو په چارټونو کې مشابه دي!
- خپل د شمېرنې چارټونو استعمال وڅېړئ. *(خپلو ورونو/خویندو ته د تدریس لپاره، له هغو خلکو سره د مرستې لپاره چې خبرې نه شي کولای، د لوبو کولو لپاره او داسې نور.)*

***۱۰ دقیقې***

3. زده کوونکي خپل نظرونه څرګندوي او له خپلو ملګرو سره بحث کوي:

- درې شیان چې هغوی په پروژه کې زده کړل
- دوه شیان چې هغوی لپاره تر بل هر څه ډېر خوندور وو
- یوه پوښتنه چې لا هم د هغوی په ذهن کې ده

***زده کوونکي باید پیشو خپلو کورنیو ته هم وښيي، او تشریح کړي چې هغوی څنګه دا پیشو جوړه کړې ده.***

# تصور وکړئ چې!

| | |
|---|---|
| شرحه | زده کوونکي د خپلې شاوخوا نړۍ بېلا بېل اړخونه مشاهده کوي او بیا له خپل تصور څخه په ګټه اخیستنې سره خپله نړۍ جوړوي. |
| اړین توکي | کاغذ، قلم/پنسل<br>رنګه پنسلونه/رنګه شمعې یا موم |
| زده کړه ییزې لاسته راوړنې | **کلیدي لاسته راوړنې:**<br>• د تصور منځته راوړل او پلټل<br>• د انځوریزو سمبولونو/نښو څخه په ګټه اخیستنې سره معلومات څرګندول<br>• خپل چاپېریال درک کول<br>• شکلونه او رنګونه پېژندل<br><br>**د ۲۱مې پېړۍ مهارتونه:**<br>• د اظهار د بېلا بېلو ډولونو په څېرلو کې خلاقیت<br>• د خپل او د نورو د لومړیتوبونو په هکله انتقادي فکر کول<br>• ملګرو ته د نظرونو د ورکولو او د کار وړاندې کولو له لارې نظر شریکول |

## د پروژې عمومي کتنه

**1** د خپلې نړۍ په هکله بیا تصور کول او شکلونه او رنګونه څېړل

**2** خپلې شاوخوا دندې پلټل او خپله د ارمانونو دنده منځته راوړل

**3** د خپل شاوخوا لمانځل کېدونکې جشنونه پلټل او د خپلې خوښې جشن ترتیبول

**4** د انځوریزو سمبولونو په کارولو سره د اطلاعاتو ښودل، خپل د ارمانونو ښوونځی جوړول، او د شمېرنې د تمرین لپاره د ریاضي لوبه کول

**5** په یوه کیسه کې خپله تخیلي نړۍ ترتیبول

# تصور وکړئ چې!

۵ دقیقې

له زده کوونکو سره په لاندې پوښتنو باندې بحث وکړئ:

**که تاسو وکولای شئ خپله نړۍ جوړه کړئ، هغه به څه ډول وي؟**

په بحث کې د مرستې لپاره، لاندینۍ پوښتنې وکړئ:

- تاسو خپلې شا و خوا نړۍ کې څه شی خوښوئ؟
- تاسو خپلې شا و خوا نړۍ کې څه شی نه خوښوئ؟
- که تاسو وکولای شو، په نړۍ کې به څه شی بدل کړئ؟

۱۵ دقیقې


زده کوونکي راوبولئ چې د خپل شاوخوا چاپېریال او په هغه کې د خپلو ځانونو په هکله د خپلې خوښې انځور رسم کړي – دا د دوی کور، د لوبو ډګر یا همداسې یو بل ځای کېدای شي.

۲۰ دقیقې

2. زده کوونکي بیا باید له خپلو ملګرو سره کار وکړي چې هغه شیان په ګوته کړي چې د هغوی په رسمونو کې د ځانګړي شکلونو درلودونکي دي او یادښت دې پې ولیکي. د بېلګې په ډول:
   i. دایره د لمر د پاره،
   ii. مثلث د یوه کور د چت لپاره،
   iii. قیف یا مخروطي شکل د ایسکریم/شیریخ د بسکټ لپاره
   iv. مربع د کړکیو او داسې نورو شیانو لپاره
   v. کروي شکل د مېوو لپاره

- هغوی کولای شي ځینې شکلونه که مخکې له مخکې هلته نه وي، په خپل رسم کې شامل کړي.
- زده کوونکي بیا کولای شي خپل رسمونه رنګ کړي.

3. مونږ اوس زده کوونکو ته اجازه ورکوو چې خپل تخیل پیل کړي او دوباره فکر وکړي چې هر شی څرنګه ښکاري. زده کوونکي به د دا ډول عادي شکلونو د رسمولو لپاره شیان غوره کړي او بیا به دغه شیان متفاوت وانګېري، هغوی کولای شي لاندینی جدول ډک کړي یا که هغوی لیکل نه شي کولای، رسم یې کړي.

| ګڼه | شی | شکل | بیاځلي متصور شوی شکل |
|---|---|---|---|
| ۱. | لمر | دایره  | مربع  |
| ۲. | ډوډۍ | مربع | مثلث |
| ۳. | چت | مثلث | دایره |
| ۴. | مخ | بیضوي | ستور-شکله |
| ۵. | څمکه | کُرّه | مستطیل |

۱۵ دقیقې

5. زده کوونکي به اوس یو نوی رسم کاږي او رنګ به یې کړي.
- هغوی ۵ عادي شیان غوره کولای شي چې شکلونه یې بدل کړي.
- هغوی به اوس د ټولو رنګونو په اړه هم له سره فکر کوي، د هر ډول متوقعه/واقعي رنګونو کارولو څخه باید ډډه وشي. د بېلګې په ډول، اسمان کیدای شي چې ژیړ وي، وریځې کیدای شي چې ارغواني وي، بحر کیدای شي چې شین وي، او داسې نور

۱۰ دقیقې

6. زده کوونکي به اوس د حیواناتو او د هغوی د نقشونو په اړه له سره تصور کوي.
- هغوی د ټولو هغو حیواناتو، چې دوی یې پېژني او هغه څه چې دغه حیوانات یې مونږ ته راکوي، په اړه د لست په جوړولو سره پیل کوي. د کم عمر زده کوونکو لپاره، هغوی دا انځورولای او توري د ګوتو په ګرځولو سره تعقیبولای شي.

| نوم | نقش | نوی نقش |
|---|---|---|
| غوا | شیدې راکوي | مېوې راکوي |
| چرګه | هګۍ اچوي | وړۍ راکوي |
| پسه/ګډ | وړۍ راکوي | هګۍ اچوي |

۵ دقیقې

7. زده کوونکي بیا کولای شي خپل دوباره انګېرلي نوي شیان او نوي شکلونه یې او همدا رنګه بیاځلې انګېرلي حیوانات او نوي نقشونه یې، خپلو ملګرو ته وښیي. هغوی کولای شي چې شریک کړي:
- په پرېزنټېشن کې هغوی څه شی خوښ کړ؟
- څه شی پکې موجود نه و یا ښه والی پکې راوستل کېدای شو
- د ښه والي لپاره نور وړاندېزونه

8. که اړتیا وي، زده کوونکي کولای شي په خپلو رسمونو کې بدلونونه راولي.

# دویمه ورځ

# تصور وکړئ چې!

***زده کوونکي موجوده وظیفې پلټي او د خپلې خوښې یوه دنده ډیزاینوي.***

۱۰ دقیقې

1. پر لاندې مواردو باندې په بحث کولو سره د دندو/وظیفو مفکوره تعریف کړئ:
- مشران/ستاسو والدین د ورځې څه کوي؟
- خلک ولې کار کوي؟
- ستاسو په ټولنه کې خلک څه قسم کار کوي؟

۲۵ دقیقې

2. بیا، زده کوونکي په ۳ یا ۴ کسیزو ګروپونو کې کار کولای شي تر څو د ۴ دندو/وظیفو لپاره په لاندینیو تفصیلاتو بحث وکړي او یادښت يې کړي (کم عمره زده کوونکي کولای شي ترسیم يې کړي یا يې په شفاهي توګه تشریح کړي):
   - د دندې نوم څه دی؟
   - سړی هره ورځ په خپله دنده کې څه کوي؟
   - خلک د دې دندې د ترسره کولو لپاره کومو معلوماتو/پوهاوي ته اړتیا لري؟

۲۰ دقیقې

3. زده کوونکي به اوس تصور وکړي چې هغوی چې کله لوی شي، څه جوړېدل غواړي. هغوی چې څنګه وغواړي هماغسې تصور کولای شي – هغوی کولای شي یا خو ځان په یوه موجوده وظیفه کې لیدل غوره کړي یا د خپلې خوښې د یوې وظیفې تصور وکړي. د بېلګې په ډول: زده کوونکي کولای شي چې غوره کړي چې لوی شي یو ډاکټر شي یا د خپلې خوښې یوه وظیفه منځته راوړي، لکه د ایسکریم/شیریخ خوند څکونکی.

4. زده کوونکي به د خپلې خوښې وظیفې/دندې په اړه یو لنډ رپوټ ولیکي یا به يې په انځوریزه بڼه رسم کړي چې پکې به لاندیني جزئیات شامل وي:
   - په ژوند کې به یوه ورځ څنګه وبرېښي،
   - هغوی د دندې د ترسره کولو لپاره کوم مشخص مهارتونه یا زده کړې لري او دوی ولې دا دنده ترسره کول غواړي؟

کم عمره زده کوونکي کولای شي د ژوندانه یوه ورځ انځور کړي او دوی لپاره اړینې زده کړې او مهارتونه ولیکي یا په شفاهي ډول تشریح کړي.

۱۰ دقیقې

5. زده کوونکي بیا کولای شي خپل کار خپلو ملګرو ته وښيي او په دې اړه نظرونه ترلاسه کړي:
   - په پرېزنټېشن کې څه شی د هغوی خوښ شو؟
   - څه شی پکې نشته دی یا لا ښه کېدای شو؟

6. که اړتیا وي، زده کوونکي کولای شي په خپل رسم کې بدلونونه راولي.

۵ دقیقې

7. زده کوونکي نظرونه څرګندوي او له خپل ملګري سره بحث کوي:
   - درې شیان چې هغوی په دې پروژه کې زده کړل
   - دوه شیان چې هغوی لپاره تر ټولو زیات خوندور وو
   - هره ننګونه چې دوی ورسره مخ شوي وو

*زده کوونکي باید خپله تخیلي دنده خپلې کورنۍ ته هم وړاندې کړي او تشریح کړي چې څنګه يې منځته راوړې ده.*

دریيمه ورځ

# تصور وکړئ چې!

***زده کوونکي به د موجوده جشنونو په پلټلو او بیا د خپلو لمانځنو په پلانولو سره د خپلې خوښې جشن ډیزاین کړي***

۵ دقیقې

1. له زده کوونکو څخه د هغه بېلا بېلو جشنونو په اړه د بحث کولو غوښتنه وکړئ چې ستاسو په هیواد کې لمانځل کیږي.

۲۰ دقیقې

2. زده کوونکي به بیا په لومړي سر کې له ملګرو/ښوونکو/کورنۍ سره د بحث کولو له لارې دوه جلا جلا جشنونه چې د هغوی د فرهنګ برخه دي او د تاریخچې په اړه یې معلومات لري، غوره کړي.
هغوی د لاندینیو موادرو په اړه معلومات راټولولای شي:
- د دې جشن تر شا څه پیغام یا مقصد پروت دی؟ د بېلګې په ډول: د اختر ورځ د روژې (رمضان) میاشتې یا د حج موسم پای ته د رسېدو په مناسبت د شکرانې ورځ ده.
- د دې جشن تر شا څه فلسفه ده؟
- مونږ څنګه دا جشن لمانځو؟ د بېلګې په ډول، مونږ شمعې بلوو، ځانګړي خواړه چمتو کوو، له کورنۍ او ملګرو سره ملاقاتونه کوو، د ځانګړي رنګونو لباسونه پر تن کوو، او داسې نور.

۱۵ دقیقې

3. زده کوونکي بیا له دوه جشنونو څخه یو جشن، چې په اړه یې معلومات ترلاسه کړي، غوره کوي او د کاریکاتوري لړۍ یا تمثیلي پارچې د جوړولو لپاره، چې ګونډې نن د جشن ورځ ده، په ګروپونو کې کار کوي.

۲۰ دقیقې

4. زده کوونکي به اوس خپل تخیلي جشن ترتیبوي. هغوی کولای شي د لاندینیو موادرو په ګډون د یو څو شیانو په اړه پرېکړه وکړي:
- د جشن اصلي پیغام څه دی؟
- د جشن نوم څه دی؟
- تاسو به په دې جشن کې کوم خواړه خورئ؟
- خلک به څه ډول لباس اغوندي؟
- تاسو به جشن څنګه لمانځئ؟

5. زده کوونکي بیا کولای شي یوه تمثیلي پارچه چې ترتیب کړی تخیلي جشن تشریح کوي، جوړه کړي.

۱۰ دقیقې

6. زده کوونکي بیا کولای شي خپله تمثیلي پارچه خپلو ملګرو سره شریکه کړي او په دې اړه نظرونه ترلاسه کړي:
- په پرېزنټېشن کې څه شی د هغوی خوښ شو؟
- څه شی پکې نشته دی یا لا ښه کېدای شو؟

*زده کوونکي باید خپل ترتیب کړی تخیلي جشن خپلې کورنۍ ته هم وښیي او تشریح کړي چې څنګه یې جوړ کړی دی.*

خلورمه ورځ

# تصور وکړئ چې!


***زده کوونکي به، لومړی په خپلو تجربو باندې د نظر اچولو له لارې، خپل ښوونځي او زده کړه ییزې تجربې طرحه کړي.***

*۵ دقیقې*

1. له زده کوونکو څخه د بحث کولو غوښتنه وکړئ چې د ښوونځي/زده کړه ییز چاپېریال په هکله څه خوښوي او څه نه؟

*۲۰ دقیقې*

2. زده کوونکي بیا کولای شي چې لږ تر لږه له خپلو ۶ ملګرو څخه پوښتنه وکړي چې په ښوونځي کې یې څه خوښېږي او څه نه. زده کوونکي به بیا په جوړه یې شکل کار وکړي تر څو د ۵ مهمو شیانو چې په ښوونځي کې د خلکو تر بل هر څه ډېر خوښېږي، یو انځوریز جدول جوړ کړي. د بېلګې په ډول:

| کټګوري | د خوښېدنو شمېر |
|---|---|
| د ساینس ټولګی |  |
| د لوبو ډګر |  |
| د ریاضي ټولګی | ÷ |

*۱۰ دقیقې*

3. د هغوی د موندنو پر بنسټ، له زده کوونکو سره بحث وکړئ:
- په ښوونځیو کې تر ټولو ډېر مشهور څه شی دی؟
- په ښووونځیو کې تر ټولو لږ مشهور څه شی دی؟
- آیا داسې کوم دوه شیان شته دی چې مساوي اندازه د خوښې وړ ګرځېدلي وي؟
- څومره خلکو د کم خوښېدونکي شي (لکه د ریاضي ټولګی) په پرتله ډېر خوښېدونکی شی (لکه د ساینس ټولګی) خوښ کړی؟

## د ریاضي لوبه

*۱۰ دقیقې*

***تر ۳۰ پورې د شمېرنې د بیاکتنې لپاره زده کوونکي یوه لوبه کوي.***

- په جوړه یې شکل لوبه کول
- یو لوبغاړی باید د ۳ او ۲۷ ترمنځ یو عدد ووایي. د بېلګې په ډول، ۱۳.
- بیا، دواړه لوبغاړي باید د ویل شوي عدد نه ۳ عددونه لوی او ۳ عددونه کوچني ولیکي.
- هغه لوبغاړی چې دا کار په سمه توګه ترسره کوي، ۱ نومره ترلاسه کوي.
- دا لوبه ۵ دا ډول پړاوونه ترسره کړئ.
- هغه کس چې په پای کې تر ټولو زیاتې نومرې لاسته راوړي، ګټونکی دی!

۲۵ دقیقې

4. زده کوونکي به بیا خپل د ارمانونو ښوونځی ډیزاین کړي – په دې کې ننګونه ښوونځی د ډېرې خوښۍ او تفریح او زده کړې ځای جوړول دي. دا باید داسې یو ځای وي چې زده کوونکي یې هیڅکله پرېښودلو ته زړه و نه کړي او واقعاً زده کړه پکې وکړي.
ځینې پوښتنو او رهبري کوونکو اشارو کې چې هغوی سره په فکر کولو کې مرسته کوي، کېدای شي لاندیني موارد شامل واوسي:

- تاسو به څه شی زده کوئ؟
- څوک به تاسو ته تدریس کوي؟
- تاسو به چېرته زده کړه کوئ؟
- په ښوونځي کې به یوه عادي ورځ څنګه برېښي؟
- ستاسو د ښوونځي نوم څه دی؟
- زده کوونکي کولای شي د ۵ شیانو یو لست، چې په ښوونځي کې د خلکو تر ټولو ډېر خوښېږي، جوړ کړي او بیا فکر وکړي چې په دغه شیانو کې څنګه لا ډېر ښه والی راوستل کېدای شي.

زده کوونکي به د نویو زده کوونکو د جذبولو لپاره د دې ارمانونو ښوونځي یو پوسټر، چې د دې ښوونځي انځور او مهمې ځانګړنې ولري، جوړوي.

۱۰ دقیقې

5. زده کوونکي بیا کولای شي خپل پوسټر خپلو ملګرو ته وښيي او په دې اړه نظرونه ترلاسه کړي:

- په پرېزنټېشن کې څه شی د هغوی خوښ شو؟
- څه شی موجود نه دی یا ښه والی پکې راوستل کېدای شو؟

که اړتیا وي، زده کوونکي په خپل رسم کې بدلونونه راوستلای شي.

6. زده کوونکي نظرونه څرګندوي او له خپلو ملګرو سره بحث کوي:

۵ دقیقې

- دوه شیان چې هغوی لپاره تر بل هر څه ډېر خوندور وو
- هر ډول ننګونه چې هغوی ورسره مخ شول

## پنځمه ورځ

# تصور وکړئ چې!

***زده کوونکي خپله ټوله تخیلي نړۍ ترتیبوي.***

۱۰ دقیقې

1. زده کوونکي د خپل ځان او د خپلو کورنیو، چې په دې نړۍ کې اوسېږي، د کیسې د جوړولو لپاره د تېرې ورځې خپل ټول تصور په بر کې نیولای شي. ځینې انګېزه ورکوونکې پوښتنې چې له هغوی څخه باید وپوښتل شي، ممکن داسې وي:

- کورونه به چېرته موقعیت ولري؟ *(په هوا کې؟ د اوبو لاندې؟)*

- د لېږد رالېږد/ټرانسپورټ وسایل به څه وي؟ *(آیا تاسو الوتونکی موټر درلودلای شئ؟)*
- خلک به څه ډول خواړه خوري؟
- ستاسو په نړۍ کې څاروي څه ډول دي؟
- هغه کوم یو شی دی چې تاسو یې په حقیقي نړۍ کې بیخي نه خوښوئ – دا به ستاسو په نړۍ کې څنګه متفاوت وي؟ بېلګې شریکې کړئ، لکه: ”زه د پلاستیک استعمال نه خوښوم او زما ټوله نړۍ به له داسې شیانو جوړه وي چې ټول به طبیعي وي.“

له زده کوونکو څخه د نظر څرګندولو غوښتنه وکړئ چې هغوی څنګه کولای شي خپل ځینې تخیلونه ژوند ته انتقال او په واقعي نړۍ کې بدلونونه رامنځته کړي.

***۲۰ دقیقې***

2. زده کوونکي به د خپلې کاملې نړۍ انځور جوړ او نوم به ورته ورکړي، یا به یې په اړه یوه کیسه لیکي او دا به له خپلو ملګرو سره شریکوي – له بلې خوا، زده کوونکي کولای شي په کامله نړۍ کې یوه ورځ په تمثیلي بڼه وړاندې کړي (زده کوونکي له ملګرو څخه د برخه اخیستلو غوښتنه کولای شي)

***۱۰ دقیقې***

3. زده کوونکي خپله نوې نړۍ خپلو ملګرو ته ښیي او په دې اړه نظرونه ترلاسه کوي:
- په پرېزنټېشن کې څه شی د هغوی خوښ شو؟
- آیا د هغوی په نړۍګانو کې کوم شی مشابه و؟
- څه شی موجود نه دی یا ښه والی پکې راوستل کېدای شو.

***۵ دقیقې***

4. زده کوونکي نظرونه څرګندوي او له خپل ملګري سره بحث کوي:
- په دې پروژه کې څه شی ستا تر ټولو زیات خوښ شو؟
- د څه شي په اړه تخیل/تصور کول درته ډېر خوندور و؟
- څه شی درته ننګوونکی ثابت شو؟

# زما طاووس

| | |
|---|---|
| شرحه | زده کوونکي به د عددونو د شمېرلو او لیکلو د مفهوم اخیستلو لپاره خپل طاووس ډیزاینوي. |
| اړین توکي | کاغذ، قلم/پنسل<br>زړي ورځپاڼي/د چارټ کاغذ<br>رنګونه (اختیاري) |
| زده کړه ییزې لاسته راوړنې | **د عدد پېژندنې لاسته راوړنې:**<br>• له ۳۱ څخه تر ۴۰ پورې عددونه شمېرل<br>• تر ۲۰ پورې عددونه جمعه کول<br>• له یو او بل عدد څخه لوی او کوچنې عددونه پېژندل<br><br>**د ۲۱مې پېړۍ مهارتونه:**<br>• د خپل هنري کار په ډیزانیولو کې خلاقیت<br>• هغوی ته د ښودل شوي کار په اړه نظر شریکول |

## د پروژې عمومي کتنه

**1** د ۳۱ او ۳۲ عددونو شمېرل او لیکل زده کول. د خپل طاووس لپاره 'بڼکې' جوړول.

**2** د ۳۳، ۳۴، او ۳۵ عددونو زده کول او د عددونو جمعه کول زده تمرینول. د خپل طاووس 'بڼکې' جوړول.

**3** د ۳۶، ۳۷، او ۳۸ عددونو زده کول او د بیدارۍ (ذهني چمتووالي) تمرین کول. د خپل طاووس لپاره د نورو بڼکو جوړول.

**4** د ۳۹ او ۴۰ عددونو زده کول او د معکوس شمېرلو تمرین کول او د خپل طاووس لپاره نورې بڼکې جوړول.

**5** خپل طاووس پوره کول او خپلو ملګرو ته یې ښودل

# زما طاووس

۱۰ دقیقې

له زده کوونکو سره په لارښودونکو پوښتنو باندې بحث وکړئ:

**ستاسو طاووس د لکۍ څو بڼکې لري؟**



په بحث کې د مرستې لپاره، لاندینۍ پوښتنې وکړئ:

- آیا تاسو د طاووس انځور رسمولای شئ؟
- طاووس له نورو مارغانو سره څه توپیر لري؟
- آیا تاسو د طاووس د بڼکو د رنګونو نومونه اخیستلای شئ؟
- ستاسو په اند د طاووس لکۍ څو بڼکې لري؟

## فعالیت

۱۰ دقیقې

***د نقاشۍ د یوه فعالیت په مرسته د ۲۱ نه تر ۳۰ پورې عددونو شمېرنه او پېژندنه باندې بیاکتنه ترسره کول.***

- زده کوونکي باید په جوړو کې تنظیم شي او د خوړو یوه غرفه رسمه کړي.
- یو زده کوونکی باید یوه مېوه او له ۲۱ نه تر ۳۰ پورې یو عدد انتخاب کړي.
- بل کس باید یوه ټوکرۍ رسمه کړي چې هماغه اندازه مېوه ولري چې لومړي کس ویلې وه.
- هر کس باید ۳ ټوکرۍ رسمې کړي.
- د بېلګې په ډول، که یو زده کوونکی ووايي، '۲۱ مڼې'، بل کس باید اړومرو د ۲۱ مڼو درلودونکې یوه ټوکرۍ رسمه کړي.
- برعکس، هغوی کولای شي 'له ۲۱ څخه تر ۳۰ پورې عددونه' وښيي او له خپلو ملګرو څخه غوښتنه وکړي چې هغه عدد ووايي چې دوی يې ننداريې ته وړاندې کوي.

۵ دقیقې

1. زده کوونکي د لاندینیو پوښتنو په ځوابونولو سره د ۳۱ او ۳۲ عددونه څېړي:

- له زده کوونکو څخه د بحث کولو غوښتنه وکړئ چې هغوی چېرته له ۳۰ څخه پورته عددونو شمېرلو ته اړتیا درلودلای شي؟
- له ۳۰ څخه پورته توکو د شمېرلو لپاره به هغوی کوم عددونه کاروي؟
- د هغوی په اند ۳۰ پسې کوم عددونه راځي؟
- هغوی به دا عددونه څنګه لیکي؟

۱۰ دقیقې

۱۰ دقیقې


2. زده کوونکي د بېلا بېلو طریقو له لارې د ۳۱ او ۳۲ عددونو لیکل تمرینوي (یوه طریقه خوښه کړئ):

- په کاغذ باندې په ګوتو سره تعقیبول: دغه عددونه لس ځلې په کاغذ باندې په ګوتو سره تعقیب کړئ.
- په خاوره/شګه لیکل: د ۳۱ او ۳۲ عددونه په ځمکه ولیکئ.
- په هوا کې رسمول: د لاسي حرکتونو په مرسته په هوا کې د لیکلو تمرین وکړئ.

## د ریاضي لوبه

۱۰ دقیقې

***زده کوونکي به یو چوت '(Abacus)' جوړوي. چوت د شمېرنې یو چوکاټ دی. او دا د محاسبې یوه وسیله ده چې له لرغونو وختونو څخه په استعمال کې پاتې شوې ده.***





- په کاغذ باندې، زده کوونکي به د ۳۱ عدد ولیکي او بیا به یو چوت، چې ۳۱ مرۍ ولري، رسم کړي.
- په هر کتار کې ۱۰ مرۍ ځایېږي.
- د ۳۲ عدد لپاره، یو بل چوت رسم کړئ چې ۳۲ مرۍ ولري.

۱۵ دقیقې

3. زده کوونکي به د خپل طاووس د 'بڼکو' جوړولو باندې لاس په کار شي:

- د یوه بالغ تن په مرسته، هغوی باید ۱۰ بیضوي شکلونه غوڅ کړي (په تقریبي ډول هر یو باید د یوه عادي پنسل د اوږدوالي په اندازه وي).
- که اړین و، تشریح کړئ چې بیضوي شکل څه ته ویل کېږي.
- که شونې وي، زده کوونکي کولای شي بڼکې د خپلې خوښې رنګونو باندې رنګ کړي.
- هغوی باید دوه بیضوي شکلونه راواخلي. پر هر یو شکل باندې، لکه څرنګه چې ښودل شوي، باید عدد ولیکي او په هماغه اندازه دایرې (یا بل کوم شکل) رسمي کړي.
- زده کوونکي باید دا کار د ۳۱ او ۳۲ عددونو لپاره ترسره کړي.




۵ دقیقې

4. زده کوونکي باید دا دوه بیضوي شکلونه له ځان سره وساتي او بیا له خپلو ملګرو سره بحث وکړي چې د نن ورځې په زده کړه کې هغوی له څه شي څخه خوند واخیست؟

زده کوونکي خپل شاوخوا داسې شیان موندلای شي چې بیضوي شکل لري.

دویمه ورځ

# زما طاووس

***زده کوونکي به نورو بڼکو د جوړولو لپاره د ۳۳، ۳۴، او ۳۵ عددونه زده کوي.***

۵ دقیقې

1. له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د ۳۱ او ۳۲ عددونو د بیاکتنې لپاره لاندیني فعالیتونه ترسره کړي.

- له یوه ملګري سره، له ۲۰ څخه تر ۳۲ پورې وشمېرئ.
- د ۳۱ او ۳۲ عددونه ولیکئ او خپل ملګري ته یې وښایاست تر څو وګوري چې آیا سم دي.

۵ دقیقې

2. د ۳۳، ۳۴، او ۳۵ عددونه تعریف کړئ او له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړئ چې د هغوی په اند ۳۲ پسې کوم عددونه راځي.

۱۰ دقیقې

3. زده کوونکي کولای شي په کاغذ باندې د ګوتو په تېرولو سره عددونه تعقیب کړي، او په هوا یا خاوره/شګه کې یې رسم کړي. هغوی وهڅوئ چې هر عدد لږ تر لږه ۱۰ ځلې په لیکلو سره تمرین کړي.

۱۰ دقیقې

4. زده کوونکي د ۳۳، ۳۴ او ۳۵ عددونو لپاره یو چوټ رسموي.

## فعالیت

۱۰ دقیقې

**زده کوونکي تر ۲۰ پورې د عددونو جمع کول تمرینوي.**

- د کارتونو دوه کېډۍ جوړې کړئ چې له ۱ – ۱۰ پورې عددونه ولري.
- هر لوبغاړی په نوبت سره له هرې کېډۍ څخه دوه کارتونه رااخلي او باید په چټکۍ سره عددونه جمع کړي.
- په یوې بلې طریقې سره، په جوړه یې شکل، هر لوبغاړی یو عدد په لوړ غږ سره وایي او لومړی لوبغاړی، چې دغه دوه عددونه جمع کړي او په لوړ غږ یې ووایي، ګټونکی دی.

زده کوونکي د ۱۱ – ۲۰ پورې عددونو درلودونکو کارتونو یوه بله کېډۍ جوړولای او د جمع کولو لپاره یې هم کارولای شي.

۱۵ دقیقې

5. زده کوونکي باید بیا د کاغذ په جلا پټیو باندې د ۳۳، ۳۴، او ۳۵ عددونو لپاره د لکۍ بڼکې جوړې کړي (لکه څرنګه چې په لومړۍ ورځ یې ترسره کړي).

۱۰ دقيقې


7. زده کوونکي ’بڼکې‘ خپلو ملګرو ته ښيي او بحث کوي:
- د هغوی د کار په برخه کې څه شی ستاسو خوښ شو؟
- آيا د هغوی په کار کې داسې برخې شته دی چې لا ښه کېدو ته اړتيا لري؟

## د رياضي لوبه

۱۰ دقيقې

***زده کوونکي د مخکې او وروسته عدد د اټکلولو لپاره له يوه بل سره سيالي کوي.***

- زده کوونکي به له ۱ نه تر ۳۵ پورې د يو عدد په ويلو سره ګېر چاپېره ګرځي.
- نور لوبغاړي به هغه عدد وايي چې له دې عددونو څخه مخکې او وروسته راځي.




- هغه لوبغاړي ته ۱ نومره وکړئ چې سم او تر ټولو مخکې ځواب ووايي.
- تر ټولو زياتې نومرې درلودونکی لوبغاړی لوبه ګټي.

درېيمه ورځ

# زما طاووس

***زده کوونکي به د نورو بڼکو د جوړولو لپاره د ۳۶، ۳۷، او ۳۸ عددونه زده کوي.***

## فعاليت

۵ دقيقې

***زده کوونکي به د لوړ عدد او ټيټ عدد په اړه زده کوي.***

تشخيصونه د ” لوی“ يا ” کوچنی“ سره ډک کړئ:

1. ۲۷ ________________ دی له ۱۷ څخه.
2. ۱۶ ________________ دی له ۲۳ څخه.
3. ۳۳ ________________ دی له ۳۵ څخه.
4. ۳۱ ________________ دی له ۲۶ څخه.
5. ۲۰ ________________ دی له ۱۰ څخه.

زده کوونکي کولای شي خپلو ملګرو لپاره د حل کولو په موخه خپل عبارتونه وليکي.
زده کوونکي د لوی او کوچني لپاره سمبولونه هم کارولای شي يعني (< او >)

۵ دقیقې

1. د ۳۶، ۳۷، او ۳۸ عددونه تعریف کړئ. زده کوونکي پخپله د دغو شمېرو لیکلو هڅه کولای او کتلای شي چې آیا دوی سم لیکلي او که څنګه؟

۱۰ دقیقې

2. تشریح کړئ چې د ۳۶، ۳۷، او ۳۸ عددونه څنګه لیکل کېږي. زده کوونکي کولای شي په کاغذ باندې په ګوتو سره عددونه تعقیب کړي، او په هوا کې یا په خاوره/شګه کې یې ولیکي. هڅوی وهڅوئ چې هر عدد لږ تر لږه ۱۰ ځلې په لیکلو سره تمرین کړي.

۱۰ دقیقې

3. زده کوونکي باید بیا د ۳۶، ۳۷، او ۳۸ عددونه خپل چوت ته ورزیات کړي.

۱۰ دقیقې


4. زده کوونکي راوبولئ چې هغه چوت وکاروي چې په دویمه ورځ یې جوړ کړی تر څو لاندینیو پوښتنو لپاره ځوابونه پیدا کړي:

- د ۱۱ نه مخکې کوم عددونه راځي؟ یا کوم عددونه له ۱۱ څخه کوچني دي؟
- د ۷ نه وروسته کوم عددونه راځي؟ یا کوم عددونه له ۱ څخه لوی دي؟
- له ۱ نه ۲۰ پورې مخ ته او له ۲۰ نه ۱ پورې شا ته شمېرل وکړئ.
- ۹ او ۴ جمع کړئ. بیا ۴ نور ورسره جمع کړئ.
- په چوت باندې د ۵ په اندازه ټوپ (Skip) وکړئ.

زده کوونکي کولای شي خپلې پوښتنې مطرح او یو ملګری د پوښتنو ځوابولو لپاره وننګوي.

## د ذهني بیدارۍ (چمتووالي) تمرین

۱۰ دقیقې




***زده کوونکي د ساه اخیستلو تمرین ترسره کوي:***

- د کاغذ په یوه ټوټه باندې ۴ غونډۍ رسم کړئ.
- دا یوه دره/وادي څرګندوي.
- خپل د شهادت ګوته په لومړۍ دره کېږدئ.
- کله چې تاسو ساه دننه کش کوئ، خپله ګوته په غونډۍ باندې پورته بوځئ.
- کله چې تاسو ساه اوباسئ، خپله ګوته په غونډۍ باندې کښته درې ته بوځئ.
- دا کار ۵ ځلې تکرار کړئ.

# زما طاووس

ځلورمه ورځ

**۱۰ دقیقې**

***زده کوونکي به د نورو بڼکو جوړولو لپاره د ۳۹ او ۴۰ عددونه زده کوي.***

1. زده کوونکي باید بحث وکړي چې هغوی د ۳۰ نه وروسته تر اوسه پورې کوم عددونه زده کړي دي.
له هغوی څخه غوښتنه وکړئ چې بیا دې د وروستیو دوه عددونو په اړه چې نن به یې زده کوي، وړاندوینه وکړي.

2. د ۳۹ او ۴۰ عددونه تعریف کړئ.
له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې له خپل ملګري سره په نوبتي ډول له ۳۰ څخه تر ۴۰ پورې شمېرنه ترسره کړي.

2. زده کوونکي کولای شي چې د عددونو تمرین په کاغذ باندې د ګوتې په ګرځولو سره، په هوا کې یا په خاوره/شګه باندې رسمولو سره ترسره کړي. هغوی وهڅوئ چې هر عدد لږ تر لږه ۱۰ ځلې په لیکلو سره تمرین کړي.

## فعالیت

**۱۰ دقیقې**

***زده کوونکي به د لس (۱۰) په اندازه شا ته (معکوس) شمېرل زده کوي.***

- زده کوونکي په یوه دایره کې کښېني او د ۰ – ۹ ترمنځ به یو عدد غوره کړي.
- غوره شوی نمبر د پړاو په جریان کې نه شي ویل کېدای.
- زده کوونکي به له ۴۰ څخه ۰ پورې شا ته شمېرل پیل کړي او باید له هغه شمېرو خامخا ټوپ وکړي چې اصلي غوره شوی عدد ولري.
- هغوی باید په بدل کې د بز/زنګ غږ وباسي.
- د بېلګې په ډول، غوره شوی عدد ۲ دی. د ۱۲، ۲۰، ۲۲، ۳۲ په څېر عددونو د ویلو څخه باید ډډه وشي. د دې عددونو پر ځای باید 'بز/د زنګ غږ' وکارول شي.

**۵ دقیقې**

4. زده کوونکي د ۳۹ او ۴۰ عددونه چوتونو ته ورزیاتوي.

**۱۰ دقیقې**

5. زده کوونکي باید کاغذ په جلا پټیو باندې د ۳۹ او ۴۰ عددونو لپاره خپلې بڼکې جوړې کړي.


**۵ دقیقې**

6. زده کوونکي خپل چوتونه خپلو ملګرو ته ښیي او د لاندینیو مواردو په اړه نظرونه شریکوي:
- هغوی د چوتونو په برخه کې څه شی خوښوي؟
- د هغوی چوتونه څنګه ورته والی او توپیر لري.

## د ریاضي لوبه

۱۵ دقیقې

***د یوې لوبې په مرسته د ۳۱ څخه تر ۴۰ پورې عددونه د شمېرلو او پېژندلو بیاکتنه ترسره کول***




- زده کوونکي له تباشیر څخه په ګټه اخیستنې سره یا مستقیماً په خاوره کې په لیکلو سره په ځمکه باندې د خېزونو چوکاټونه (hopscotch) جوړولای شي.
- له ۳۱ څخه تر ۴۰ پورې عددونه په نامنظم ډول ولیکئ.
- زده کوونکي باید یوه تیږه خطا کړي او په صعودي ترتیب سره ۴۰ ته ټوپ ووهي. هغوی نه شي کولای د تېر عدد په پرتله، چې دویورباندې ولاړ دي، یو کوچنی عدد باندې پښه کېږدي.
- په داسې حال کې چې هغوی ټوپ وهي، هغوی باید د تیږې درلودونکي عدد څخه ټوپ ووهي او تیږه په پای کې راپورته کړي.

زده کوونکي کولای شي له ۴۰ څخه په پیلولو او د نزولي ترتیب له مخې تګ سره لوبه وکړي.

پنځمه ورځ

# زما طاووس


***زده کوونکي به خپل طاووس بشپړ کړي او خپلو ملګرو ته به یې وښيي.***

## د ریاضي لوبه

۱۰ دقیقې

***زده کوونکي د ۳۱ – ۴۰ عددونو بیاکتنه ترسره کوي.***

- د دې اورګاډي په څېر دوه اورګاډي چې ۱۰ دایرې ولري، په خپل کتاب کې رسم کړئ.
- دوه عددونه، هر یو مو چې خوښ وو، په سمو ځایونو کې ولیکئ.
- خپل اورګاډی له یو ملګري سره تبادله کړئ او تشځایونه په سمه توګه ډک کړئ.
- د کره کتنې لپاره یې بیاځلې تبادله کړئ.



**۱۰ دقیقې**




1. زده کوونکي بیا کولای شي د طاووس بدن جوړ کړي. هغوی کولای شي بدن رسم کړي یا د بدن جوړولو لپاره له خټې/لمدو اوړو نه کټه واخلي.
   - هغوی کولای شي څومره جزئیات چې یې زړه وي، ورزیات یې کړي.
   - ډاډ ترلاسه کړئ چې هغوی یو غټ بدن جوړ کړي تر څو وکولای شي د لکۍ بڼکې ورپورې ونښلوي، لکه څرنګه چې دلته ښودل شوي.

**۱۵ دقیقې**

2. زده کوونکي باید بیا خپل د لکۍ بڼکې له ۳۱ څخه تر ۴۰ پورې په ترتیب سره تنظیم کړي او بیا د طاووس بدن پورې یې ونښلوي.

3. زده کوونکي به خپل مارغه ته نوم ورکړي او د نظر شریکولو لپاره به یې خپل ملګري ته وښيي.
   - زما په طاووس کې ستا څه شی خوښ شو؟
   - ما څه شی د اوس په پرتله ښه ترلاسه کولای شو؟

4. زده کوونکي نظرونه شریکوي او له خپل ملګري سره بحث کوي:
   - هغوی په دې پروژه کې درې شان زده کړل
   - هغوی له دوه شیانو څخه تر ټولو زیات خوند واخیست
   - هغوی لا هم یوه پوښتنه په ذهن کې لري.

*زده کوونکي باید خپل طاووس خپلو کورنیو ته هم وښيي، او تشریح کړي چې هغوی څنګه دا طاووس جوړ کړی دی.*